د افغانستان اسلامي جمهوریت

د چاپېریال ساتنې ملي اداره

# د اسلام له نظره د چاپېریال ساتنې اهمیت

علمي او څېړنیزه مقاله

لیکوال: نسیم بهار

لمریز کال: ۱۳۹۹

# سریزه

الحمدلله رب العلمین والصلوة والسلام علی خیر خلقه سیدنا محمد سیدالمرسلین و علی اله وصحبه هداة الدین المتین ومن تبعهم باحسان الی یوم الدین.

الله (ج) د ځمکې جوړښت رامنځته کړ او بیا یې د ځمکې د ابادۍ لپاره انسان پیدا کړ او هغه ته یې د خلافت ستره دنده وسپارله تر څو د ځمکې د ابادولو، سوکالۍ او امن لپاره خپلې ټولې وړتیاوې وکاروي . الله(ج) انسان له ځمکې څخه پیداکړ او د هغه ټولې اړتیاوې یې هم په ځمکه پورې وتړلې لکه څرنګه چې قرانکریم ورته اشاره کړې ده ﴿هُوَ أَنشَأَكُم مِّنَ الْأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا ﴾ (سورة هود٦١) ژباړه: الله (ج) هماغه ذات دی چې تاسي یې له ځمکي څخه پیدا کړي یاست او دلته یې تاسي مېشته کړي یاست. بې شکه چې ځمکه او په ځمکه کې ټول شته موجودات الله(ج) د انسانانو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره پیداکړي دي او د هغې ساتنه او پالنه یې هم د انسانانو ستر مسؤلیت ګرځولی دی. د اسلام سپیڅلی دین د بشریت د ټولو چارو د اداره کولو لپاره یو کامل، تل پاتې او ټولو برخو ته شامل دین دی. چې د پاکوالي، چاپېریال ساتنې او نورو اړوندو برخو کې یې هم انسانانو ته غوره لارښوونې کړې دي. په دغې مقاله کې هڅه شوې تر څو د اسلام له نظره د چاپیریال ساتنې اهمیت (د اسلامي شریعت) له نظره واضح او روښانه شي. تر څو هیوادوال د چاپېریال ساتنې په برخه کې د خپل دیني مسؤلیت په توګه خپلې ټولې وړتیاوې او هڅې په لاره واچوي او د دغه ستر نعمت (چاپېریال) د ساتنې او پالنې په اهمیت او ارزښت پوه شي.

## د چاپېریال (محیط زیست) پېژندنه

مخکې له دې چې د چاپېریال ساتنې په اهمیت پوه شو اړینه ده چې لومړی د چاپېریال په مفهوم او مانا پوه شو. د چاپېریال د تعریف په هکله ګڼ شمېر تعریفونه شتون لري چې ځینې یې په لاندې ډول دي.

د چاپیریال اصطلاح د فرانسوي کلمې Environia"" څخه اخیستل شوې چې د "چاپیره کولو" په معنی ده. دا کلمه دواړو ابیټیک (فزیکي یا غیر ژوندي) او بایوټیک (ژوندي) چاپیریال ته کارول کیږي. د چاپیریال کلمه د احاطه کولو معنی لري ، یعنې ټول موجودات چې بشر یې احاطه کړی وي چاپېریال بلل کیږي. چاپیریال او ارګانیزم د طبیعت دوه متحرکې او پیچلي برخې دي چې چاپیریال د انسانانو په شمول ټول ژوندي موجودات تنظیم کوي. انسانان د چاپیریال سره د نورو ژوندیو موجوداتو په پرتله خورا پیاوړي تعامل کوي. په عمومي ډول چاپیریال هغو موادو او قوو ته ویل کیږي چې ژوندي موجودات یې احاطه کړي وي. یا په بل عبارت چاپیریال د هغو شرایطو مجموعه ده چې په یو معلوم وخت او ځای کې یې انسان احاطه کړی وي او پر ژوند یې مستقیمه اغیزه ولري چاپیریال بلل کیږي( P. Gisbert (همدارنګه: چاپیریال یوه خارجي قوه ده چې پر انسانانو اغیزه کوي ( E. J. Ross )

## په قرآنکریم کې د چاپېریال ساتنې اهمیت

د دې لپاره چې لیکنه د مقالې له حدودو څخه بهر نشي نو په ترتیب سره به د چاپیریال ساتنې اهمیت به د قرآن کریم او نبوي احادیثو له نظره په لنډه توګه واضح او روښانه شي.

① د قرآنکریم له نظره د چاپیرال ساتنې اهمیت:

قرآنکریم د هدایت یوه تل پاتې او ابدي سرچینه ده چې د انساني ژوندانه ټولې برخې رهنمایي کوي له دغو برخو څخه یوه یې هم انساني چاپیریال دی چې په قرآنکریم کې یې پر ساتنې، پالنې او غوره ګڼې اخیستې ټینګار شوی دی. الله(ج) قرآنکریم د انساني ژوندانه ټولو اړخونو ته ځواب ویونکی او د بشریت ټولو چارو ته د غوره لارښود په توګه رالیږلی په دې اړه الله(ج) فرمایي: وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ تِبْيٰنًا لِّكُلِّ شَىْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرٰى لِلْمُسْلِمِينَ] سُورَةُ النّحل٭ ٨٩ 】 ژباړه: موږ دغه کتاب پر تا نازل کړی دی، چي په ډاګه ښکاره د هر شي څرګندوونکی دی. او د هغو خلکو لپاره هدایت، رحمت او زیری دی چي د امر منني غاړه یې ایښې ده. که څه هم په قرآنکریم کې د چاپېریال ساتنې د کلمې پوره ذکر نه دی شوی خو د چاپېریال د مهمو عناصرو څخه یې یادونه کړې ده، چې دغه ټول عناصر ( ژوندي او غیر ژوندي) یو له بل سره نه شلېدونکې اړیکې لري، او په طبیعت کې یو ډول متحرک تعادل منځته راوړي چې د ټولو مخلوقاتو لپاره اړین بلل کیږي. نو که چېرې انسان په دغه تعادل کې زیان رامنځته کړي یا هغه له مینځه یوسي، له هغوئ څخه نا سمه ګټه واخلي او هغه چټل کړي نو انسان به د الله(ج) د ارادې خلاف کار ترسره کړی وي. په داسې حال کې دې د ډېرو بدو حالاتو د راتګ انتظار وکړي ځکه چې له طبیعت او چاپېریال سره په جګړه کې به ضرور انسانان ماتې خوري. د چاپېریال د ځینو عناصرو څخه چې په قرآنکریم کې یې پر ساتنې، پالنې او غوره ګټې اخیستنې ټینګار شوی په لاندې ډول یادونه کوو.

اوبه:

اوبه الله(ج) د ژوندیو موجوداتو د ژوند بنسټ ګرځولې دي، ټول ژوندي موجودات د خپل ژوند د بقا لپاره پر اوبو تکیه کوي. د قرآنکریم بیلابیل آیتونه د دې ستر نعمت او د هغوئ د اهمیت یادونه کوي. اوبه د بې شمېره حیاتي اړخونو تر څنګ له دیني او مذهبي حیثیت څخه هم برخمنې دی. دا ځکه چې اوبه د پاکي (طهارت) یوه بې ساري ماده ده، او د انسانۍ ناپاکي له منځه وړي. نو ځکه د دغه ستر نعمت ساتنه د ټولو مخلوقاتو د پایښت لپاره خورا اړین کار دی. په همدې اړه الله (ج) فرمایي:

هُوَ الَّذِيٓ أَنزَلَ مِنَ السَّمَآءِمَآءً ۖ لَّكُم مِّنْهُ شَرَابٌوَمِنْهُ شَجَرٌفِيهِ تُسِيمُونَسُو رَةُ النّحل ١٠

الله (ج) هماغه ذات دی چې ستاسي لپاره یې له اسمانه اوبه اورولې دي، په هغو سره تاسي په خپله هم خړوبیږئ او له همدې څخه ونې، بوټي راټوکیږي چې تاسي په وښو، ورشو کي څاروي څروئ.

له پورتني آیت څخه معلومیږي چې اوبه د ژوند حیاتي او بنسټیزه ماده ده. نو پس انسان ته لازمه ده چې د هغې پاکوالي، ساتنې او سمې ګټې اخیستنې ته پام وکړي. ځکه که داسې وو نه شي نو د ټولو ژوندیو موجوداتو ژوند به له خطر سره مخ شي.

هوا:

د چاپیریال بل بنسټیز عنصر هوا جوړوي. ټول ژوندي موجودات د خپل ژوند د پایښت لپاره هوا ته اړتیا لري او نشي کولای چې څو دقیقې هم له هوا پرته ژوند وکړي. همدارنګه هوا د نباتاتو په بارداري، باران او د وریځو د مختلفو برخو په انتقالولو کې مهم رول لري.

وَتَصْرِيفِ الرِّيٰحِ وَالسَّحَابِالْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَآءِ وَالْأَرْضِ لَءَايٰتٍلِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ.سُورَةُ البَقَرَة ١۶۴

( د بادونو په لګېدو کښي او په هغو وریځو کښي چې د اسمان او ځمکي په منځ کښي د امر ښکیل دي؛ د هغو خلکو لپاره بې شمېره نښانې دي  چې د پوهي څخه کار اخلي.)

لکه څرنګه چې هوا د ژوند دبقا لپاره بې اندازې اړینه فریضه سرته رسوي، نو پر انسانانو هم لازمه ده تر څو له هغې څخه ساتنه وکړي او د هر ډول ککړتیا مخه یې ونیسي، دا د اسلامي قوانینو موخه  ده چې د چاپیریال د ټولو عناصرو د خوندیتوب غوښته کوي او د هغوئ د هر ډول ککړتیا او تخریب څخه ممانعت کوي.

خاوره (ځمکه) :

ځمکه هم د ژوندیو موجوداتو د ژوند د پایښت لپاره یو له مهمو عناصرو څخه دی. په قرآنکریم کې ځمکه د ژوندیو موجوداتو د قیام او اوسیدلو ذریعه بلل شوې ده، او د انسان پیدایښت هم له خاورې څخه شوی دی. په ځمکه کې موجود معدنیات د انسانانو، حیواناتو او نباتاتو د ژوند او بقاء لپاره اړین بلل کیږي .

وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا مَعٰيِشَ وَمَن لَّسْتُمْ لَهُۥ بِرٰزِقِينسُو رَةُ الحِجر ٢٠

 او په هغې(ځمکه) کښي مو د ژوندانه وسایل برابر کړي، ستاسي لپاره هم او د هغو زیاترو مخلوقاتو لپاره هم چې تاسي د هغو روزی رسوونکي نه یاست.

د ابوبکر احمد په وینا که چېرې مونږ واقیعا ځانونه د الله (ج) شکر ایستونکي ګڼو نو پر مونږ لازمه ده چې پر ځمکه کښتونه رامنځته  کړو او هغه له هر ډول زیان څخه خوندي وساتو.

حیوانات او نباتات:

د انساني ژوند دپايښت او پرمختګ په برخه کې د نباتاتو او حيواناتو له رول څخه هيڅکله همانکار نشي کيدای. او د هغوئ پرته د انساني ژوند تصور هم نا ممکن دی. نباتات د خپل ځاني عمل( فوتوسنتيز) په وسيله خواړه برابروي، چې له هغوئ څخه مونږ ډول ډول غلې دانې، ميوې او سبزي تر لاسه کوو. په دې اړه قرآنکريم مونږ ته داسې بلنه، فکر او غور راکوي. ژباړه: "بيا دې انسان خپلو خوړو ته وګوري، مونږ ښې اوبه را توی کړې دي، بيا ځمکه مو په عجيبه شان څيرلې ده، بيا مو په هغې کې غلې دانې را زرغونې کړې دي، انګور او سابه، ګڼ باغونه، او ډول ډول ميوې او واښه (شنيلي)، د ژوند د وسايلو په توګه ستاسو او ستاسو د څارويو لپاره."سُورَةُ عَبَس : ۲۴-۳۲

د غږ يا آواز ککړتيا:

په نني عصر کې مونږ د آواز له ککړتيا څخه هم سخت ستړي شوي يو، او زمونږ ورځنی ژوند يې له ستونزو سره مخ کړی دی. اسلام لوړ آواز په کلکه سره ردوي، او داسې آواز د خره له غږ سره تشبيه کوي.

وَاقْصِدْ فِي مَشْيِكَ وَاغْضُضْ مِن صَوْتِكَ ۚ إِنَّ أَنكَرَ الْأَصْوَاتِ لَصَوْتُ الْحَمِيرِ.

پخپل تګ کي ميانه روي غوره کړه او خپل غږ لږ ټيټ کړه، له ټولو اوازونو څخه ډېر بد اواز د خرو وي.سُورَةُ لقمَان: ۱۹

په اسلامي عباداتو کې هم د دې خيال ساتل شوی چې آواز يا غږ دې ډېر لوړ نه وي، لکه په لمونځونو کې چې د ورځې لمونځونه سري وي ځکه چې له نورو وسايلو سره شور پيدا کوي، همدارنګه د سهار او ماخستن لمونځونه جهري وي ځکه چې په دغو وختونو کې شور کم وي. ذکر او دعاګانې هم په همدې ډول وي. نو انسانانو ته لازمه ده چې چاپيريال له لوړو غږونو او آوازونو څخه خوندي وساتي تر څو انساني ژوند په يو آرام او هوسا چاپېريال کې له دغې ککړتيا څخه وژغورل شي.

## په نبوي احاديثو کې د چاپيريال ساتنې اهميت

د اسلامي شريعت دويمې سرچينې چې نبوي احاديث جوړوي ۱۴۰۰ کاله د مخه پر چاپېريال ساتنې او پاکوالي ټينګار کړی او د چاپېريال د ټولو عناصرو د تخريب څخه يې په کلکه منع کړې ده. د رسول الله (ص) له احاديثو او سيرت څخه مونږ کولای شو د چاپېريال ساتنې د بيلابيلو برخو په اړه معلومات تر لاسه کړو، خصوصاً د طبيعي موادو د ساتنې، پالنې او سمې ګټې اخيستنې په باره کې لاربښوونې او د اسراف او تخريب څخه مخنيوی يې مهمې بيلګې دي. لکه څرنګه چې د چاپيريال ساتنې په برخه کې د ونو او نيالګيو کېنول مهم رول لري، نو په اسلام کې هم د ونو پر کېنولو، ساتنې او پالنې ډېر ټينګار شوی دی. همدارنګه له اړتيا پرته د هغوئ له وهلو او تخريب څخه يې په کلکه منع کړې ده.

رسول الله(ص) فرمايلي: که چېرې کوم کس نيالګی يا ونه کينوي (که هغه سايه داره يا ميوه داره وي) تر څو چې له هغې ونې څخه انسان يا حيوان خوراک کوي يا ترې ګټه اخلي نو د هغې اجر او ثواب هغه کس ته رسيري.

همدارنګه رسول الله (ص) په يو بل حديث کې د ونو او نيالګيو د کېنولو د اهميت په باره کې فرمايلي دي: که د قيامت ورځ قايمېدونکې وي او له تاسو څخه د کوم کس په لاس کې نيالګی وي او هغه کېنولی شي نو هغه دې ضرور کېنوي.

په نبوي سيرت کې له لارې څخه د ضرر رسونکو شيانو لرې کول ثواب او اسلامي اخلاق بلل شوي دا ځکه چې د ضرر او ناپاکي څخه مخنيوی کوي. له حضرت ابو هريرة (رض) څخه روايت دی چې رسول الله(ص) فرمايلي دي: که کوم کس په يوه لاره تېرېده او هغه هلته کوم اغزن شاخ پيدا کړ او هغه يې له لارې څخه لرې کړ نو الله (ج) به د دغه کار اجر ورکړي او جنت ته به يې داخل کړي.

همدارنګه په یو بل حدیث کې رسول الله(ص) فرمايي: چا چې د مسلمانانو له لارې څخه کوم ضرر رسونکی شی لرې کړ الله(ج) د هغه لپاره نیکي لیکې او د چا لپاره چې هغه نیکي ولیکي هغه جنت ته داخلوي.

له پورتنیو احادیثو څخه ښکاره معلومیږي چې اسلام او نبوي سیرت د چاپیریال ساتنې په برخه کې تر ټولو غوره لارښونې کړې دي. په یادو احادیثو کې له لارې څخه مطلب یواځې د تګ راتګ لارې ندي بلکې ټولو هغو ځایونو ته اشاره شوې ده چې هلته انسانان اوسیږي. او د هغه پر پالنه او ساتنه یې ټینګار کړی دی.

همدارنګه په نبوي سیرت او احادیثو کې د چاپیریال تخریب او ککړتیا په کلکه منع شوې ده. په دې هکله له رسول الله (ص) څخه ګڼ شمیر حدیثونه نقل شوي چې ځینې یې په لاندې ډول دي.

اتقوا الملاعن الثلاث: البراز فی الموارد والظل وقارعة الطريق.

ژباړه: رسول صلی الله علیه وسلام فرمايي: له درو لعنتيو شیانو څخه ځان وساتئ: قضايي حاجت په ګودر (له کوم ځای څخه چي اوبه وړل کیږي) سایه (هلته چي خلک کښیني) او په لاره کښي.

د رسول الله(ص) په احادیثو کې د ونو د قطع کولو څخه په کلکه منع شوې ده، حتا د جګړې پر محال هم د ونو د قطع کولو څخه منع شوې ده په هغه صورت کې چې د جګړې پر محال د دښمن په ګټه نه وي. نو دا دمسلمانانو لپاره ښکاره لارښوونې دي چې باید هغه تر سره کړي تر څو دنیوي او اخروي نیکبختي او کامیابي یې په برخه شي.

ماخذونه:


- د قرآنکریم بیلابیل آیتونه
- نبوي احادیث ( بخاری و مسلم) ، المصنف ابن ابی شیبه، ، معجم طبرانی کبیر: ۱۶۸۹۶
- سید ابوالاعلیٰمودودی ، الجہاد فی الاسلام، دہلی ۱۹۷۴ء، ص ۲۲۷. ۲۳۱
- احسان اللہ خان ،سائنس، اسلام اینڈ ماڈرن ایج، دہلی ۱۹۸۰ء،ص ۵۴
- بدر الاسلام، ایجوکیشنل فاؤنڈیشن آف اسلام، آدم پبلشرز، دہلی ۲۰۰۷ء، ص۲۱۳
- اسلام اور ماحولیات: ڈاکٹر بدرالاسلام**Sunday, May 20, 2012**
- **Meaning, Definition and Components of EnvironmentBy: Puja**: **mondhttps://www.yourarticlelibrary.com/environment/meaning-definition-and-components-of-environment/6157**
- **Islam and the Environment**

**SUMMER 2002 GAR SMITH**